**د افغانستان امنیت او ثبات د امریکا لومړیتوب نه دی**




د امریکا د ګډو ځواکونو لوی درستیز وایي، په افغانستان کې امنیت او ثبات زموږ لومړیتوب نه دی

د امریکا د ګډو ځواکونو لوی درستیز جنرال جوزف دانفورډ په واشنګټن کې په یوه څېړنیز مرکز کې دې ته په اشارې چې په افغانستان کې د دوی لومړیتوب د امنیت او ثبات تضمین نه دی وویل: اول لومړیتوب د امریکا د خلکو، هېواد او محتدانو ساتنه ده. په افغانستان کې د امریکا د حضور دلیل دا دی چې د امریکا پر وړاندې د دښمن پیاوړتیا او ګواښونه له منځه یوسي.

ده دا هم وویل چې په سیمه کې د القاعده په ګډون تر ۲۰ زیاتې تروریستي ډلې فعالیت لري. نو د تروریستانو سره د مقابلې لپاره په افغانستان کې د امریکا حضور اړین دی، که نه نو هغوی یو ځل بیا پیاوړي کېږي او له امریکا به غچ واخلي.

ده له افغنستانه د امریکایي ځواکونو د احتمالي وتلو پوښتنې په ځواب کې وویل: که په سیمه کې پر القاعده، داعش او نورو تروریستي ډلو فشار رانه وړو، دوی په لنډ مهال کې یو ځل بیا خپله پیاوړتیا تر لاسه کوي او په راتلونکي کې به موږ د سپټمبر د بلې ۱۱ مې شاهدان وو.

حال دا چې امریکا په همدغه بهانه افغانستان او عراق اشغال کړل او له شوروي وروسته یې له اسلامي امت سره په همدې پلمه جګړه پیل کړه. ترڅو خپل له ناورینونو ډک نظامونه له نړېدو وژغوري او د خپلو ولسونو عامه افکار بهرني دښمن ته متوجه کړي او په سیمه کې له اشغال وروسته استعمار ته دوام ورکړي. دې ته ورته لوړ پوړو امریکایي چارواکو په ځلونو داسې څرګندونې کړې دي او په تېره څه باندې یوه نیمه لسیزه کې یې افغانستان او ګڼ شمېر نورو اسلامي خاورو ته له ناورینونو، کړکېچونو او هر ډول بدبختیو پرته بل څه نه دي ورکړي؛ مګر بیا هم خاین او لاسپوڅي چارواکي د یرغلګرو او استعمارګرو کفارو غلامي کوي او بهرني دوستان یې ګڼي. دغه‌راز ځینې مسلمانان له امریکا د خیر تمه لري او باور ورباندې کوي.

خو موږ په وار وار خبرداری ورکړی، چې امریکا له افغانستان صرف د یوې وسیلې په توګه کار اخلي او په سیمه کې یې د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره کاروي.

خالد ایثار